# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| Ideological | آئینهٔ ایران |
|---|---|



ليکونکی : الحاج داکتر امين الدين « سعيدي – سعيد افغاني»
ژباړونکي : محترمه اغلي فاطمه « نيازی »

۱۳ مارچ ۲۰۲۱

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ښځې مصافحه نامحرم نارينه ته!




مصافحه يا د ښځې لاس ورکول نامحرم نارينه ته، د اسلامی شريعت له مخي په مطلق ډول روا نه ده. توپير نه کوي اونه دغه ناروا د ښځې او نارينه د عمر، چې کوچني وي که لوی اړه لري او نه عمر په روا و ناروا وو کې اغيزه لري. سبب يې داده، چې په دغه عمل کې د دواړو له اړخه وسوسه او فتنه پيښيږي او شيطاني فتنو سره مرسته کوي، څومره به ښه وي که اړتيا وي دغه ستړي مه سي په ګړني(شفاهي)ډول وشي.

خدای تعالی هم په دې اړه فرمايلي دي: « وإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاء حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ» (د احزاب سوره ۵۳ آيه).(يعنی: کله، چې د ژوند ځيزونه د امانت په ډول هغوې (د نبی له ميرمنو) څخه غواړي د پردی له شا څخه يې وغواړي؛ دا کار ستاسو او د هغو د زړونو د پاکوالي لپاره ښه دی.)

مفسرين وايي ددې مبارکې آيه حکم يوازي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ميرمنو پوری اړه نه لري، بلکې حکم يې ټولو مؤمينو ميرمنو باندې هم صدق کوي، که داسی وشي، چې يو ځيزاو يا امانت اخيستل د پردې تر شا ترسره شي، نو هغه وخت د لاس ورکولو او لمسکولو حکم يې ټاکونکی او مشخص دی؟!

په يو حديث کې له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:« « العَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ، وَالأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الاسْتِمَاعُ، وَاللِّسَانُ زِناهُ الكَلاَمُ، وَاليَدُ زِنَاهَا البَطْشُ، وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الخُطَا». بخاري(۶۲۴۳،۶۶۱۲) مسلم (۲۶۵۷). (يعنی: سترګې زنا کوي او زنايې نامحرم ته په کتو کې ده، د غوږونو زنا غوږ نيول نوساني او شهوتي خبرو ته ده، او د ژبې زنا په شهوت پارونکو خبرو کې ده، او د لاسونو زنا نامحرم ته لاس ورکولو کې ده، او د پښو زنا نامحرم ته په بد نيت تللوکې ده.)

همدا رنګه په صحیح حدیث کي له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوي دی، چي فرمایلي دي:« :« إِنِّى لَا أُصَافِحُ النِّسَاءَ» (زه له ښځو سره مصافحه نه کوم) أحمد (۶/۳۵۷). (زه په هیڅ صورت کي ښځو ته لاس نه ورکوم).

په یو بل حدیث کي له عایشي رضی الله عنها څخه روایت شوی:« « مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ غَيْرَ أَنَّهُ يُبَايِعُهُنَّ بِالْكَلَامِ» بخاري (۵۲۸۸)، او مسلم (۱۸۶۶). یعنی: (رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکله ښځي ته لاس نه دی ورکړي، او له ښځو نه یي په ژبني ډول بیعت اخیستی دی.)

طبرانی په «المعجم الکبیر» کي له معقل ابن یسار رضی الله عنه څخه روایت کوي، چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « لأَنْ يُطْعَنَ فِى رَأْسِ أَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لا تَحِلُّ لَهُ » صحیح ألبانی فی«الصحیحة» (۱/۴۴۷). یعنی(که له تاسو څخه د یوه په سر کي د اوسپني میخ لاړ شي له دینه ښه ده ،چي ښځه لمس کړي، چي ورته حلاله نه وي).

او همدا رنګه طبرانی له ابی امامه رضی الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم روایت کوي، چي فرمایلي دي:« «لَان يَزْحَمُ رَجُلٌ خِنْزِيرًا مُتَلَطِّخًا بِطِينٍ، أَوْ حَمْأَةٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَزْحَمَ مَنْكِبِهِ مَنْكِبَ امْرَأَةٍ لا تَحِلُّ لَهُ» «الترغیب و الترهیب»۲۶/۳ (۲۹۳۸). یعنی: (که د چا بدن په خاورو او خټو لړل شوي خوک ولږیږي له دینه ښه ده، چي اوږه یي د هغي ښځي په اوږه ولږیږي، چي ورته حلاله نه وي).

او په یو بل حدیث کي له ترمذي، ابوداود، ابن ماجه او«الأدب المفرد» کتاب کي د امام بخاري راغلي، چي: یوه ورځ رسول اکرم - صلی الله علیه وسلم – یوه ډله ښځو لخوا تیریده د لاس په اشاره یي هغو ته سلام واچوه. خو محدثین ډیروي، چي: په سنن ترمذي، کي تصریح شوي، چي دغه ښځي په مسجد کي ناستي وي.

علماء وایي: که کومه مانع ونه اوسی او فتنه هم نه وي، ښځو ته ګړنی یا شفاهي سلام ورکول روا دی. لکه زړو ښځو ته سلام ورکول. ځکه، چي په یو مسلمان لازمه ده، چي زړو ښځو ته سلام واچوي، همرایي وکړي او د حال پوښتنه یي وکړي.

په صحیح بخاري کي راغلي، چي صحابه رضوان الله علیهم اجمعین به د جمعی لمونځ نه وروسته د زړي ښځي خواته ته، چي دده د لاري په سر وه او سلام به یي ورته اچوه.

دا کار یو شفقت او مهربانی ده له زړو مسلمانانو سره، چي دایي یو ښه امر قبول کړی او په زیاترو نصوصو کي ورته هڅول شوي دي. او ابن قیم هم په زاد المعاد کي دغه نظر تایید کړی دی.

بخاري په «الأدب المفرد» (۱۰۷۳) کي او محقق زاد المعاد (۲/۴۱۹) کي وایي: د دغه حدیث سند کي د زړه کمزورتیا (ضعف) وجود لري.

ترمذي په (۲۶۹۷) او ابوداود په (۵۲۰۴) او ابن ماجه په (۳۷۰۱) او الأدب المفرد په (۱۰۴۷). او آلباني همدا په سنن صحیح ابي داوود او نورو کتابونو کي یي صحیح قبول کړی دی. نګاهالصحیحة (۸۲۳) او جلباب المرأة(۱۹۶-۱۹۴).

دغه ټول د لیلونه د اسلام مقدس دین کي موجود دي، چي ښځه او نارینه یي نامحرم ته د لاس ورکولو څخه منع کړي دي.

خدای تعالی هم د ښځو او هم د نارینوو د هدایت لپاره فرمایلي دي:« :«قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِکَ أَزْکَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ

أُوْلِی الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ» (د نور سوره ۳۱ آیه).یعنی: مؤمینو نارینوو ته ووایه، چې سترګې دي له ناروااوو څخه ټیټې کړي او پاکې دې اختیار کړي، چې دا ورته غوره ده بې له شکه خدای تعالی چې هر څه کوي پو دی.

او ایماندارو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې ناروااوو څخه ونیسي او خپلې لمنې دي وساتي او خپل ښایست د (بې له هغې اندازې چې ښکاره ده) ښکاره نه کړي او د خپل ټکري څنډې دي په خپله سینه هم واچوي(چې سربیره د سر ویښتانو او غاړې سینه یې هم پټه اوسي) او خپل ښایست ښکاره نه کړي بی له خپلو خاوندانو، یا پلارونو یا د خاوندانو له پلارونو یا د خپلو ځامنو یا د خاوندانو له ځامنو، یا له ورونو نه یې، یا د ورونو له ځامنو نه، یا د خویندو له ځامنونه یا همدینه ښځو او یا کنیزانو نه یې یا هغه ماشومانونه ، چې د ښځو په غړو خبر ونه اوسي.

نو په دغه صورت کې په مطلق ډول ویلي شو، چې یوي نامحرمي ښځې ته لاس ورکول یا د هغې لمسکول حرام او ګناه ده.

نو اسلامی او شرعی حکم همدا ده، چې د نارینه لاس ورکول نامحرمې ښځې ته په مطلق ډول روا نه ده. والله اعلم